رسول الله صلى الله عليه وسلم به د هر فرضي لمانځه په پاي کې دا ذکر کاوه

د مغيره ابن شعبه له کاتب وَرَّاد څخه روايت دی وايي چې: مغيره بن شعبه راباندې هغه ليک وليکه چې معاويه ته يې ليږه چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم به د هر فرضي لمانځه په پاي کې دا ذکر کاوه : «لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، اللَّهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ، وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ». يعني له الله تعالى پرته بل معبود بر حق نشته، هغه يو دی، شريک نلري، هغه لره (د کائناتو) پاچاهي او پوره غوره ستاينه ده، او هغه پر هر څه قادر دی، اې الله ! ته چې (چا ته) څه ورکوې، د هغه څوک مانع بندوونکی نشته، او ته چې (له چا نه) څه بند کړې، د هغه څوک ورکوونکی نشته، او فائده نه کوي مالدار لره د هغه مال ستا د عذاب (په لرې کولو کې).

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم به د هر فرض لمانځه څخه وروسته دا دعا وېله: «لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، اللَّهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ، وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ». يعني: د توحيد په کلمې؛ لاإله إلا الله، اقرار او اعتراف کوم، حق عبادت الله تعالى ته ثابتوم، او له هغه پرته يې له نورو څخه نفي کوم، نو له الله جل جلاله پرته په حقه بل معبود نشته، او پدې اقرار کوونکی يم چې حقيقي او بشپړه پادشاهي يوازې الله لره ده، او الله تعالى د ځمکې او آسمانونو د خلکو د ستاينې مستحق دی، هغه پر هر څه ځواک لري، او هغه څه چې الله تعالى له ورکړې او يا منع کولو څخه مقدر کړي وي، منع کوونکی يې نشته، او د هغه په وړاندې د مالدار مالداري ګټه نه لري، بلکې يوازې نيک عمل ورته ګټه رسوي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65102

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee